# قَالَ اللهُ تَعَالَى: قَسَمْتُ الصَّلَاةَ بَيْنِي وَبَيْنَ عَبْدِي نِصْفَيْنِ، وَلِعَبْدِي مَا سَأَلَ

له ابوهريره -رضي الله عنه- څخه روايت دی چې: ما له رسول الله -صلی الله علیه وسلم- څخه اوریدلي دي چې ویل یې: «قَالَ اللهُ تَعَالَى: قَسَمْتُ الصَّلَاةَ بَيْنِي وَبَيْنَ عَبْدِي نِصْفَيْنِ، وَلِعَبْدِي مَا سَأَلَ، فَإِذَا قَالَ الْعَبْدُ: {الْحَمْدُ لِلهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ}، قَالَ اللهُ تَعَالَى: حَمِدَنِي عَبْدِي، وَإِذَا قَالَ: {الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ}، قَالَ اللهُ تَعَالَى: أَثْنَى عَلَيَّ عَبْدِي، وَإِذَا قَالَ: {مَالِكِ يَوْمِ الدِّينِ}، قَالَ: مَجَّدَنِي عَبْدِي، -وَقَالَ مَرَّةً: فَوَّضَ إِلَيَّ عَبْدِي-، فَإِذَا قَالَ: {إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ}، قَالَ: هَذَا بَيْنِي وَبَيْنَ عَبْدِي وَلِعَبْدِي مَا سَأَلَ، فَإِذَا قَالَ: {اهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيمَ، صِرَاطَ الَّذِينَ أَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ غَيْرِ الْمَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ وَلا الضَّالِّينَ}، قَالَ: هَذَا لِعَبْدِي وَلِعَبْدِي مَا سَأَلَ». «الله جل جلاله فرمايي چې : ما د خپل ځان او خپل بنده تر منځه لمونځ په دوو برخو ویشلی دی او زما بنده به هغه څه ترلاسه کوي چې هغه يې غواړي،، نو کله چې بنده {الْحَمْدُ لِلهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ} ووايي، نو الله تعالی وفرمايي چې : زما بنده زما حمد ادا کړ ، کله چې ووايي: {الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ}، نو الله جل جلاله وفرمايي چې: زما بنده پر ما ثنا وویله، او کله چې ووايي: {مَالِكِ يَوْمِ الدِّينِ}، نو وفرمايي چې: زما بنده زما لويي بيان کړه،. يو ځل (راوي وويل) الله تعالی وفرمايي چې: خپلې چارې يې ماته راوسپارلې، نو کله چې ووايي: {إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ}: الله تعالی وفرمايي چې : دا زما او زما د بنده ترمنځه ده، زما بنده چې هر څه وغواړي هغه لره شته، نو کله چې ووايي: {اهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيمَ، صِرَاطَ الَّذِينَ أَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ غَيْرِ الْمَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ وَلا الضَّالِّينَ}، وايي: دا زما د بنده لپاره دي او زما بنده ته هر هغه څه شته چې هغه يې غواړي».

[صحيح] [مسلم روايت کړی دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم خبر ورکوي چې الله تعالی په حديث قدسي کې فرمايلي دي چې : ما د خپل ځان او خپل بنده تر منځه د فاتحې سورت په لمانځه کې په دوو برخو ويشلی دي، چې نيم يې زما او نيم يې زما د بنده لپاره دی. نو لومړ نيمه برخه يې: ستاينه، ثنا او لويي بيانول دي، چې په هغې سره غوره اجر ورکوم. او دويمه نيمايي برخه يې: عاجزي او دعا ده چې زه يې ورته قبلوم او هغه څه ورکوم چې هغه يې غواړي. نو کله چې لمونځ کوونکی ووايي: {الحمد لله رب العالمين}، الله تعالی وفرمايي: زما بنده زما ستاينه وکړه، او کله چې ووايي: {الرحمن الرحيم}، الله تعالی وفرمايي: زما ستاينه يې وکړه، زه يې وستايلم او ماته يې پر بندګانو زما په ټولو نعمتونو اقرار وکړ، او کله چې ووايي: {مالك يوم الدين}، الله تعالی وفرمايي: زما بنده زما لويي بيان کړه، کوم چې لوی عزت دی. کله چې ووايي: {إياك نعبد وإياك نستعين}، الله تعالی وفرمايي: دا زما او زما د بنده تر منځه ده. نو لدې آيت څخه لومړ برخه يې چې هغه : (إياك نعبد) ده، الله تعالی ته په الوهيت اقرار او د هغه بندګي منل دي، او پدې سره د الله جل جلاله نيمايي برخه پای ته رسيږي. او د آيت دويمه نيمايي برخه د بنده لپاره ده چې هغه : (إياك نستعين) ده، له الله تعالی څخه د مرستې غوښتل او د هغه لخوا د مرستې وعده ده. او کله چې ووايي: {اهدنا الصراط المستقيم * صراط الذين أنعمت عليهم غير المغضوب عليهم ولا الضالين}، الله تعالی وفرمايي: دا زما د بنده لخوا عاجزي او دعا ده، او زما د بنده لپاره هر هغه څه دي چې هغه يې غوښتنه کړې، او ما د هغه دعا قبوله کړې ده.

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY

لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC
E-Da'wah Committee